جنوبي وزیرستان: پر پاک افغان پوله د دراندازیې هڅه ناکامه شوې د تي تي پي ترهګرو ته درنه مرګ ژوبله اوښتی ده

د جنوبي وزیرستان سره په پوله د تي تي پي د ترهه ګرو د ننوتلو کوشش د سیکورټي اهلکارو لخوا ناکامه کړے شو چې پکښې ګڼ شمیر ترهګر مړه او ژوبل شول۔

د پټو معلوماتو له مخې، د تي تي پي ترهګر د پولې څخه د تیریدو لپاره تیاری نیوله۔ تیره شپه په پاک افغان پوله دترهګرو د تګ راتګ څارنې په مهال سیکورټي اهلکارو هغه وخت په نښه کړو کله چې دوي د باڑ د پرې کولو کوشش کولو۔ د ډزو په تبادله کې یو شمیر ترهګر مړه او ژوبل شول او پاتې ترهګر بیرته افغانستان ته په تیښته مجبور شول۔

امنیتي ځواکونو په پوره مېړانه د پولو ساتنه کوي او د تروریستانو د ناپاکو ارادو د شنډولو لپاره د خوارج د تګ راتګ په پرله پسې توګه څارنه کوي۔ په وروستیو کلونو کې د ترهګرو د دراندزیې څو هڅې ناکامې شوې چې په ترڅ کې یې تحریک طالبان پاکستان ته درنه مرګ ژوبله اوښتې ده۔